# د افغانستان ملی ګوند اعلامیه

## (د پنجوایی دپیښنو په اړه)

کابل – افغانستان، د ۱۳۹۰ کال د حوت د میاشتې ۲۳ مه نېټه؛
په خواشینی سره مو د ډله ایزو رسنیو له لارې خبر تر لاسه کړ چې د قندهار ولایت د پنجوایي په ولسوالی کې د امریکایی پوځیانو لخوا په ملکي وګړو د ډزو له کبله شپاړس بې ګناه کسان (نارینه، ښځې او ماشومان) وژل شوي او نهه (۹) نور زخمي شوي دي. د افغانستان ملی ګوند دارالانشأ د ګوند د ټولو غړو په استازیتوب په دې پیښه ژوره خواشینی څرګندوی، مړو ته د فردوس جنت، زخمیانو ته روغتیا او د هغوی پاته خپلو خپلوانوته د زړه تسلی غواړي.
موږ غواړو چې ددې پیښې عاملین قانون ته وسپارل شی، محاکمه او په سخته جزا ورسیږی. د پیښې قربانیانو ته باید د نړیوالو معیارونو سره سم د ور رسیدلو زیانونو جبران او تاوان ورکړل شی.
موږ د نړیوالو ځواکونو غوړته په هیواد کې د سیاسی ډګر د فعال ګوند په حیث دا خبره په زغرده رسوو، چې د افغانانوکلتور په نظر کې ونیسی، مقدساتو ته یې درناوی وکړی، د بشری حقونو له تر پښو لاندې کولو او د بې ګناه خلکو له وژلو لاس واخلی او په جدی ډول د هغو افرادو مخه ونیسی چې د هیواد او نړیوالو قوانینوپر خلاف جرمونه او جنایتونه کوي.
د افغانستان ملی ګوند په نظر په داسې پیښنو کې د خارجیانو تر څنګ د افغانستان اوسنی واکمنان هم بشپړ مسئولیت لری چې په دې لسو کالونو کې یې ددې ډول پیښنو د مخنیوی له پاره لازم شرایط رامنځته نه کړل. د افغانستان دولت مکلفیت لری چې د هیواد د اتباعو د ژوند، امنیت، عزت او شرف د ساتلو له پاره لازم تدبیرونه ونیسی. زموږ په هیواد کې د روانې لسیزې د غمجنو پیښنو په لړ کې، دې پیښې یو ځل بیا په ډاګه کړه، چې د هیواد اوسنی واکمنان د خپلو دندو د تر سره کولو توان نه لری. دولتی او حکومتی ارګانونه او شخصیتونه ددې پرځای چې د امریکا او نورو هغو خارجی هیوادونو سره، چې د هغو په حمایت زموږ پر ولس حاکمیت چلوی، دا ډول ستونځې د دیپلوماتیکو کانالونو، نړیوالو معتبرو سازمانون او نورو اداری تماسونو له لارې حل کړی، یوازې دعادی افغانانو په شان د مطبوعاتو له لارې د تأسف په ښکارولو او اعلامیو په صادرولو بسنه کوی. هیڅ ډول عملی اقدام چې د دا ډول پیښنو په مخنیوی کې اغیزه ولری، نه کوی. موږ له اوسنیو واکمنانو په ټینګه غواړو چې د داسې پیښنو د مخنیوی له پاره اغیزمن او کوټلی ګامونه پورته کړی. ټولې هغه موافقې او قراردادونه لغو کړی چې د افغانستان ملی حاکمیت ته زیان رسوی. د افغانی ظرفیتونو په لوړولو او د مسئولیتونو په اخیستلو کې هڅې او هاند وکړی او زر تر زره د خارجی پوځیانو د ایستلو او د روانو جګړو د پای ته رسولو له پاره شرایط برابر کړی.
زموږ ګوند په افغانانو باندې د تپل شوو جګړو زیان ته په پاملرنه سره د هیواد او سیمې د کشالو د سوله ایز حل پلوی کوی. زموږ هیله داده چې د افغانانو ټول اړخونه، سیاسی ګوندونه، ټولنیز جوړښتونه او اغیزمن شخصیتونه د هیواد د ملی ګټو د تأمین او د سولې او امنیت د تضمین په خاطر یو له بله سره د دوه اړخیزه درناوی په اصولو د تفاهم او روغې جوړې لاره ونیسی، تر څو چې په افغانستان کې د پردیو هیوادونو د ګټو له پاره جګړې پای ته ورسي او له هغو سره یوځای پر افغانانو باندې د جګړو مصیبتونو ته هم د پای ټکی کیښودل شی.

د افغانستان ملی ګوند دارالانشأ